بسم الله الرحمن الرحيم

# د خلافت په نشتون کې، ښځو ډېر څه له لاسه ورکړل او له ډېر ناوړه وضعیت سره مخ شوې

**(ژباړه)**

د خلافت او اسلامي دولت دنشتون د اغېزو په اړه مو اورېدلي، لوستي او ان تجربه کړي. هغو ته چې په دې اړه پوښتنې کوي او غواړي پوه شي چې د خلافت په نشتون کې مو څه له لاسه ورکړل؟ موږ يې په ځواب کې وايو: د ژوند په ټولو کچو، ډګرونو او اړخونو کې مو ډېر څه له لاسه ورکړل. دلته پر ښځو بحث کوو، چې ډېر څه يې له لاسه ورکړل او په مختلفو بڼو وځپل شوې.

د خلافت په نشتون کې تر ټولو مهم شی چې ښځو له لاسه ورکړل، په ژوند کې د دوی اصلي رول او دنده ده؛ ښځه بايد د خپل کور ملکه وي. ښځه بايد مور او د کور مېرمن وي، مسوليت يې د سړي پر غاړه دی، سړی پام ورته کوي او اړتياوې يې پوره کوي. مجبوره نه ده چې د ژوند برابرولو لپاره پخپله کار وکړي، خو که يې خوښه وه، زده کړې او کار کولی شي. دا چې اسلام له پلي کېدو پاتې دی، د کپيټلېزم ايډيالوژۍ تر حاکميت لاندې ښځې د مېچنې د دوو ډبرو په منځ کې اوړه کېږي؛ د کور او مالياتو تر منځ او د دندې او د کار د سختيو تر منځ. ارام او هوسا ژوند ته وخت نه لري، تل ستړې او تر فشار لاندې وي. دغو کارونو ته اړ ايستل شوې، په خپله خوښه يې نه کوي؛ له خاوند سره يا پرته له خاونده بايد د ځان او خپلې کورنۍ اړتياوې پوره کړي. د دندې موندلو د ستړياوو او نامناسب وضعيت په اړه به يې څه نه وايو او دا چې په څه ډول موقعيت کې کار کوي. په دې توګه دوی مجبورې دي چې خپل ماشومان يا په نامناسبو نرسريو کې پرېږدي، يا يوازې به کور کې او ان تر دې چې بېرته راځي، په کوڅه او د سړک پر سر؛ دا د دې سبب کېږي چې دغه ماشومان ناسمه روزنه واخلي او ناسم چلند، اخلاق او ارزښتونه خپل کړي.

ښځو يې امنيت او خونديتوب له لاسه ورکړی؛ کله چې تاوتريخوالی او بې عدالتي ورسره کېږي يا وژل کېږي، د چغو اورېدو څوک يې نشته؛ نه يې څوک د ظالمانو له زندانه د ژړا غږ اوري. متعصم نشته چې چغو ته يې ځواب ووايي؛ څوک چې دا کار کولی شي يا د دوی چغو ته د ځواب ويلو مسول دي؛ دوی پر خپلو پرېکړو واک نه لري، جرات يې نه لري؛ بلکې دا پرېکړې په واشنګټن، لندن او پاريس کې کېږي. په ځينو موردو کې ښځې په خپله

کورنۍ کې له بې عدالتۍ سره مخ دي؛ دا ځکه چې په کورنۍ کې يې داسې سړي دي چې له خدايه نه وېرېږي او ښځې په ظلم او بې عدالتۍ را کنټرولوي، دوی د دې پر ځای چې د خونديتوب او ارامتيا عاملين وي، د ښځو د وېرې عاملين جوړېږي؛ د دې پر ځای چې ښځې له دوی سره د خونديتوب احساس وکړي، له دوی څخه د خوندي پاتې کېدو په لټه کې وي. دا ځکه چې دغه کسان له خپل دين څخه لرې شوي او د شريعت د پلي کېدو وېره ورسره نشته. دا قرباني کېدای شي مېرمن، خور او ان مور وي چې د خپل اولاد له ظلم او نامهربانۍ سره مخ کېږي، له کوم ملاتړي يا ډوډۍ راوړونکي پرته يې پرېږدي؛ د دغو ظالمانو زړه ټول دی چې د دولت له لوري سزا نه ورکول کېږي؛ په دې توګه ښځه همداسې بې دفاع پاتې شي، ځکه چې ډال يې نشته، خلافت نشته، هغه دولت نشته چې اسلام پلی کوي.

ښځو له دولت، کورنۍ، خپلوانو او بل هر چا څخه د خپل حق لاسته راوړلو او بې عدالتۍ لرې کولو اسانتيا له لاسه ورکړه. کونډې، بې سرپرسته او مظلومې ښځې چې محکمې ته د خپل حق لاسته راوړلو لپاره ځي؛ له بېځايه او پرېمانه لګښتونو، فيسونو، ستړيا او ناوړه ګټه اخيستنې پرته بل څه لاسته نه راوړي. په ځينو سيمو او کورنيو کې يې د ميراث حق خوړل کېږي، د ټولنيز ژوند حقوق يې تر پښو لاندې کېږي؛ مثلاً په واده کې يې د رضايت پوښتنه نه کېږي، د مهر حق ترې اخيستل کېږي؛ که خبره طلاق ته ورسېږي، دلته يې هم ځوک حق نه ورکوي؛ ځکه چې محکمې په سمه توګه شريعت نه پلی کوي او مقابل لوري ته يې د دې لپاره چې له شتمنې طبقې دی يا په بل هر سبب، ترجيح ورکول کېږي. دلته بيا دغه حديث راوړم چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمايي:

**«إِيَّاكم وَالأَقْرَادَ»، قُلْنَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَمَا الأَقْرَادُ؟، قَالَ: «يَكُونُ أَحَدُكُمْ أَميراً أَوْ عَاملا، فَتَأْتي الأَرْمَلَةُ وَالْيَتِيمُ وَالْمسْكِينُ، فَيُقَال: اقْعُدْ حَتَّى نَنْظُرَ في حَاجَتِكَ، فَيُتْرَكُونَ مُقَرَّدِينَ، لا تُقْضَى لَهُمْ حَاجَةٌ وَلا يُؤْمَرُونَ فَيَنْصَرفُونَ، وَيَأْتِي الرَّجُلُ الْغَنِيُّ أو الشَّرِيفُ، فَيُقْعِدُهُ إِلَى جَنبه، ثُمَّ يَقُولُ: مَا حَاجَتُكَ؟ فَيَقُولُ: حَاجَتِي كَذَا وَكَذَا، فَيَقُولُ: اقْضُوا حَاجَتَهُ وَعَجِّلُوا بها»**

**ژباړه:** *« الاقراد مه کوئ!»* موږ وپوښتل: يا رسول الله، الاقراد څنګه وي؟ ده صلی الله عليه وسلم وفرمايل: *« کله چې له تاسو نه کوم کس امير يا عامل وئ او يوه کونډه، يتيم يا بېوزله درته راشي او ورته ووايئ چې د مسلې تر حل کېدو پورې يې په تمه شي، بيا همداسې "مقردين" پاتې شي، غوښتنه يې پوره نه شي، د مسلې په اړه يې هېڅ پرېکړه ونه شي او همداسې لاړ شي. او بيا يو شتمن او شريف کس راشي، هغه د (امير/عامل) تر څنګ*

*کېنول شي، د مسلې او قضيې پوښتنه ترې وشي او ووايي چې داسې يا هغسې کيسه ده، بيا ورته وويل شي: د ده کار په بيړه خلاص کړئ.»*

الاقراد، څنګه چې الزمخشري تفسير کړی، له سپکاوي سره چوپتيا ده (يعنې چې د يو چا د کار نه کولو ترڅنګ سپکاوی هم ورته وشي، په ټيټه سترګه ورته وکتل شي). که د خدای خوښه وه، دا کار به په خلافت دولت کې نه وي.

ښځو يې په ډېرو هېوادونو کې، که هغه اسلامي دي او که غير اسلامي او غربي هېوادونه، د خپلو مذهبي تشريفاتو د تر سره کولو وړتيا له لاسه ورکړې؛ دوی خپل مذهبي تشريفات داسې چې بايد يې ترسره کړي، يا لکه څنګه چې دوی غواړي، نه شي ترسره کولی. د شريعت مطابق جامو باندې يې بنديز لګېدلی، څوک دوی ته د سپکاوي، زيان رسولو او د دوی پر وړاندې د تاوتريخوالي مخه نه نيسي؛ ښوونځيو، پوهنتونونو او ان نورو زده کړو ته له حجاب سره نه پرېښودل کېږي؛ بېلګې يې په فرانسه او نورو هېوادونو کې وينو! حج او عمرې ته له تګ څخه منع شوې، ان جومات ته نه پرېښودل کېږي او په کارځای کې د عبادت حق نه ورکول کېږي.

د دې تر څنګه، د خلافت په نشتون کې تر ټولو مهمه ستونزه چې يوه ريښتينې مسلمانه په نا اسلامي ټولنه کې ورسره مخ کېږي، د ځان، خپل چلند او اخلاقو ساتلو ستونزه ده. په کور، کارځای او ټولنه کې له نفس سره جهاد او فکري تضاد ورته سخت تمامېږي. په داسې فضا کې چې ټوله کپيټلېزم او سيکيولرېزم نيولې ده، د خپلو اولادونو او ټولنې د روزنې مسوليت ډېر ورته سختېږي. بيرونۍ فضا، ښوونځي، د تحصيل دورې، سټلايټ کانالونو، د اړيکو وسايلو، ټکنالوژۍ او نړيوالتوب ته په کتو، د لورانو روزونه بې حده ورته سختېږي؛ دا فضا يې د بې حجابۍ، تبرج، سرکشۍ سبب کېږي؛ له نارينه وو سره ګډېږي، چې دا چاره شريعت حرامه کړې، په تش په نامه ازاديو يې ماغزه مينځل کېږي. له خپل خاوند سره په ستونزو کې وي، د بانکونو له حرامو او پورونو سره مخ کېږي؛ له زامنو سره يې ستونزې بله خبره ده، د هغو له سطحي فکر، غوښتنو، د کور، دين او کورنۍ په اړه د مسوليت حس نه لرلو او سرکشۍ سره مبارزه سخته ده. که خلافت وی، دا ټولې ستونزې به نه وې، ټولنه به اسلامي وه، د ټولنې هر وګړې به د تقوا لرله او شريعت به پلی کېده.

دا خو په کوزه کې سمندر و، اصلاً ستونزې او څه مو چې له لاسه ورکړي، ډېر لوی دي ... موږ له الله سبحانه و تعالی څخه غواړو چې ژر د نبوت پر منهج د راشده خلافت نعمت را نصيب کړي، چې که خدای کول له دغو ټولو ستونزو خلاص شو.

#أقيموا_الخلافة

#ReturnTheKhilafah

#YenidenHilafet

#خلافت_کو_قائم_کرو

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**

**مسلمه الشامي (ام صهيب)**